۱۶۴ تنه نوي ښوونکي؛ په دندو ګمارل کیږي

د لوګرد مرکز او ولسوالیو په ښوونځیو کې د ۱۲۴ تنو مسلکي، تجربه لروونکو او وړو ښوونکو د ګمارنې په موخه د وري په ۱۴ مه آزموینه واخیستل شوه.

په دې تړاؤ جوړه شوې غونډه کې د پوهنې وزارت استازي سبحان الله سجاد، د ولایت مقام استازي نوراحمد تسل، د ولایتي شورا غړي حاجي محمد قسیم خوشیوال، د پوهنې رئیس انجینر محمد اکبرستانکزي، د ښځو چارو ریاست استازې میرمن جاویده فضلي او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونوی سیمه ئیز دفتر استازی حشمت الله ستانکزي برخه اخیستې وه.

دغه آزموینه د پوهنې وزارت د لارښوونې له مخې د ۱۲۴ خالي بستونو د ډکولو لپاره د ټاکل شوې کمیټې غړوله خوا واخیستل شوه، چې پایله به یې هم په یوه اوونۍ کې څرګنده شي.

محمد شاه پورعرب د پوهنې ریاست ویاند وویل، چې په دغې آزموینه کې د ۱۱۲ ښځو په ګډون ۴۷۸ تنو د پوهنتونونو او دارالمعلمینونو فارغانو برخه

اخیستې وه، چې ۱۲۴ تنه به یې د یوې رڼې پروسې په پایله کې د مرکز او ولسوالیو په ښوونځیو کې د ښوونکو په توګه وګمارل شي.

دعرب په خبره، په لوګرکې د دغې ازموینې په اخیستلو سره به په ښوونځیو کې د ښوونکو ټول خالي بستونه ډک کړل شي.

دکابل پل علم سړک ددویم لین کارسماً پیل شو

دکابل _ پل علم دویم سړک د جوړولو کار دکب په ۱۱ مه پیل شو.

ددغه سړک دکار د پرانیستلو په مراسمو کې د ټولګټو وزیر محمود بلیغ، دلوګر والي محمد حلیم فدایي، دمشرانو جرګې د دویم نایب ډاکټر محمد آصف صدیقی، دلوګر دولایتي شورا رئیس سید قریب الله سادات او د ملي شورا یوشمیر غړو او سیمه ئیزو مسوولینو ګډون کړي ؤ.

د ټولګټو وزیر دخبرو په ترڅ کې وویل: ددغه سړک کار به په دریو پړاونو کې بشپړ شي چې ددغه واټ لومړۍ برخه یو ویشت کیلومتره اوږدوالي او اته متره سور لري او څلور متره ګلدانونه جوړیږي.

دبلیغ دڅرګندونو له مخې: دغه سړک داته سوه اووه نوي ملیونو افغانیو په لګښت په اتلسو میاشتو کې جوړیږي.

ویل کیږي چې ددغه سړک دویم پړاو دمحمد اغې له ولسوالۍ څخه تر پل علم پورې او دریم پړاو یې دلوګر ټانک له سیمې څخه پیل او د موسهي ولسوالۍ دسقاوې ددښتې ترسیمې پورې به دوام ومومي.

دلوګر والي محمد حلیم فدایي وایي: دسړک دویمه کرښه هم ترانزیتي ده چې کولای شي کابل له جنوب ختیځو ولایتونو سره نښلوي.

دغه راز والي ؛ ددغه سړک دکیفیت په باب ټینګار وکړ او ویې غوښتل چې په دې پروژه کې د لوګر ولایت اوسیدونکي د کارګرانو په توګه وګومارل شي

برای اولین بار باشندگان ولسوالی خروارازخدمات مخابراتی مستفیدشدند

باشندگان ولسوالی دورافتاده لوگرپس ازمدت ها انتظار،برای اولین باربه خدمات مخابراتی دسترسی پیدا نمودند.

ثمرگل راشد ولسوال خروار به آژانس باخترگفت: به تاریخ ۱۲ حمل برای نخستین بارشبکه سلام با نصب یک پایه آنتن که ساحه شش کیلومتررا تحت پوشش قرارمیدهد به مصرف مجموعی 6.8 میلیون افغانی درولسوالی خروار فعالیت اش را آغازوبیش ازپنجاه درصد مشکلات مخابراتی مردم را مرفوع نمود،منبع می گوید تا اکنون هیچ شبکه مخابراتی درخروارفعالیت نداشته است ومردم آنجا ازخدمات مخابراتی محروم بوده اند،ولسوال اضافه نمود که درآینده های نزدیک ساحه پوشش آن توسعه خواهد یافت وخدمات انترنیتی نیزبرای مردم ازطریق شبکه یادشده عرضه خواهد شد.

محمدحلیم فدایی والی لوگرازآغازفعالیت شبکه مخابراتی سلام درولسوالی یادشده اظهارخرسندی نمود وافزود که تلاش های خودرا درراستای توسعه وایجاد شبکه های مخابراتی درآن ولسوالی انجام خواهد داد.

ازسوی دیگرمحب الله یکتن ازباشندگان ولسوالی خروارمی گوید که قبلاً باشندگان این ولسوالی با مشکلات زیادی مخابراتی مواجه بودند وتنها کسانیکه پول داشتند با استفاده ازستلایت ها آنهم با مصارف گزاف میتوانستند تماس تلیفونی برقرار نمایند وی می گوید که اکثرمردم دراین ولسوالی برای تماس تلیفونی به مرکز ویا به جاهای دیگرسفرمی نمودند.

ازبرخی باشندگان ولسوالی خروارضمن اظهارخرسندی ازاین اقدام نیک دولت،پرسش شان این است که چرا درطول چهارده سال ازاین خدمات به دورمانده اند.

باختر

دمحمدآغې ولسوالۍ د پوهنې نوی آمر وټاکل شو

د لوګر د محمدآغې ولسوالۍ د پوهنې آمریت ته د آزادې سیالۍ پرښسټ روح الله امین د پوهنې د نوي آمر په توګه ټاکل شوی دی.

هغه غونډه، چې ددې د پیژندګلوۍ په موخه دوري په ۵ مه جوړه شوې وه، د پوهنې ریاست د مالي او اداري چارو مرستیال محمد صادق ستانکزي، د محمدآغې ولسوالۍ د اجرایي مدیرعبدالواسع حکیمي او د یو شمیر قومي مخورو برخه اخیستې وه.

روح الله، چې د نورالله زوی دی شاوخوا ۲۷ کاله عمر لري او د محمدآغې ولسوالۍ د مغل خیلو د کلي اوسیدونکی دی.

نوموړي د اقتصاد په برخه کې لوړې زده کړې کړي دي، په کافي اندازه کاري تجربه لري او په یو شمیر غیرې دولتي ادارو کې یې دنده هم ترسره کړې ده. له دې مخکې نوموړې دنده د ښوونیزې څارنې او ارزونې آمر محمد حنیف ستانکزي د سرپرست په توګه پرمخ وړله.

دنیالګیو کینولوفرهنګ په لوګرکې دپرمختګ پرلور

که څه هم په تیروکلونوکې دپسرلي په موسم کې دلوګر دولتي مامورینو دخپل ریاستونو چاپیریال په میوه لرونکي او غیرې میوه لرونکي نیالګیو کینولو باندې ښکلی او ښکلا ورپه برخه کول، خو سړکال دپسرلي دپیل سره سم دولایت مقام له لورې دمیرابدال دغره په سر دیو تفریحي پارک په جوړولو او دنیالګیو کینولو سره جوخت دغه پروسه په بیړه د دولتي اداروڅخه پیل او هر ه اداره په دې وتوانیدل، چې خلکوته دنیالګي کینولوفرهنګ څرګند کړي ترڅوولس په دې پوه شي، چې څنګه کولی شي، ټولنه دپرمختګ پرمخ ولاړه شي، البته نه تنها دیوې ټولنې پرمختګ په رغنیزواو په جوړونې نه بلکې؛ دښه اوپاک چاپیریال رامنځته کول هم له پرمختللي کړنو څخه شمیرل کیږي. نوپه دې توګه زرغون چاپیریال دانسان روح او روان ته تسکین په برخه کوي، انسانان دناروغیوڅخه ژغورل کیږي، ښه اوپاکه هوا تنفس کوي، دمیووڅخه ګټه پورته کوي او د دمې کولولپاره دهغې سیورې ته کښیني.

دلوګرولایت مشرتابه؛ وپتیله، چې باید لوګرولایت یوتفریحي اوزرغون پارک ولري، چې دمیرابدال باباغر دپارک جوړولو لپاره مناسب اود وړځای وګڼل شو، چې دغه غر دښار لویدیځې لورې ته پروت دی، چې په کموامکاناتو سره به ورغول شي. نو د دولتي اداراتو کارکوونکو، په نوموړې غره کې میوه لرونکي اوغیرې میوه لرونکي ونې کینولې، چې دهرې ادارې ځای معلوم اوښکاره ده. رښتیا هم دولایت مقام دغه نیک کارته خلک خوښ اوخوشحاله دي، چې دیوغره پرسر پارک جوړول اوغر زرغون کول، ددې څرګندوي کوي، چې اوس هغه وخت رارسیدلی، چې دولت په کم لګښت ډیر زیات کارونه ترسره کولی شي او دخلکو دخدمت لپاره متې بیډ وهلي اوکار په رښتنولۍ سره ترسره کوي.

دیادوکړنو پرته ؛ داطلاعاتو اوفرهنګ ریاست هم دخپل چاپیریال په زرغون کولو او دنیالیګوکینولولپاره ترڅپلې وسې وتوانیدل، چې په نوموړې ریاست او دعامه کتابتون په حولۍ کې زینتي، میوه لرونکي اوغیرې میوه لرونکي ونې کینوې. له دې مخکې ددې ریاست مامورینو دعامه کتابتون مخه وکیندله اوپرځای یې خاوره پرش کړه، چې د نورو میوه جاتو لپاره دکرلو امکانات برابر اوامادې دی. همدارنګه دزرغون حشر دفرهنګ غزولو لړۍ دلوګرپه دولتي اداراتوکې اوپه ځانګړې ډول داطلاعاتو اوفرهنګ ریاست کارکوونکي داونۍ په پیل کې دخپل چاپیریال پالنه او دشته کثافاتو دلرې کولو حشر ترسره کوي.

راځئ، چې نورهم دنیالګیو کینولوفرهنګ په ښاراوباندوکې وغزه ؤ، ترڅو هروګړی په دې وتوانیږي، چې یو نیالګی دځان لپاره، یودخپل هیواد لپاره او یو دسولې لپاره کینوي، تردې دغه لړۍ هرکال دپسرلي دپیل سره سم بې له دې چې بل څوک ورته ووایي، په خپله دغه کار ترسره کړي، نو اوس هم دنیالګیو کینولو وخت شته که چیرته ځینې ادارو اودلوګراوسیدونکو په خپل چاپیریال اوسیمه کې نیالګي ندي ایښي، باید دثواب دترلاسه کولولپاره بیړه دوکړي اونیالګي دکینوي او دغه فرهنګ نورهم غښتلي کړي.

دیوآباد اوسمسورافغانستان په هیله ستانکزی

خطرات تماس های تلیفونی

بدون شک تماس های تلیفونی خطرات را درپی دارد وشناخت آن قسمت از راه علاج آن میباشد وباید مردم را بااین خطرات اگاه ساخت وآنها را برحزرداشت.

مهم ترین خطرات تماس هاس تلیفونی:

تحریک احساسات جنسی هدف است که شیطان ویارانش می خواهد به آن برسند واگرنتوانند مستقیماً برآن برسند سعی می کنند تا آتش شهوت را درجامعه مشتعل (شعله ور) که به سبب آن دختران پسران جوان را اغو(گمراه) کند واین خطربا نرم وزیباکلام زنان ودختران شروع میشود زیرا موقع پسر ودختر جوان تلیفونی باهم صحبت می کند درواقع نوعی خلوت کرده اند وپس وعد دیدار میگزارنند تا هم دیگررا ببینند ومرحله دیگررا ببینند ومرحله حضوری درخلوت شروع میشود.

شوع ازدواج های غیرشرعی:

این سفر کوتاه که بایک مکالمه کوتاه وساده شروع میشود بعد ازمکالمه ملاقات ودیدار سپس عشق ودوستی وبعد ازآن خلوت وزنان که سبب نافرمانی خداوند (ج) میشود الله (ج) درسوره اسراء آیت 32 میفرماید. ترجمه: نزدیک زنا نشوید که کاربسیار زشت وبد راهی است، که موجب ازبین رفتن عفت وپاک دامنی میشود ونهایتاً مجبور میشوند که ازدواج غیر شرعی را ترتیب دهند یعنی ازدواج دختربدون اجازه ولی که این ازدواج باطل است.

ابا ورزیدن ازدواج:

چون دختر ویاپسرمنتظر است با فرد که به وسیله تماس تلیفونی آشناشوند وباهم مرتبط اند ازدواج کند وآنهم هرگزبه خواستگاری نخواهد آمد.

چون آن فرد درفکرزندگی خودمیباشدوتماس با این دختر نوعی سرگرمی میداند ودختربه عنوان همان فرد باخواستگاری هایش جواب منفی داده تن به ازدواج نمی دهد تابلاخره هیچ کس به خواستگاری اش نمیاید و درخانه پدر ازدواج نکرده باقی میماند ویا اینکه فرد نامناسبی را به همسری بر میگیزند.

جوانان مسلمان آگاه باشید !

جوانانیکه با افرادفرومایه وپست به ناموس وحیثت مسلمانان چشم دوخته اند ازطریقی تماس های تلیفونی ویا فیس بوک وغیره آشنا میشوند وتصویر خود را دراختیارآنها گذاشته ویا درکنار هم عکس میگیرند بدون اینکه به عاقبت بی اندیشند بعد ازمدت معلوم میشود که این انسان های پست عکس های دختران را فقط برای سوء استفاده نگهداشته ودرواقع دختران وزنان ذلیل آن میشود تحت فرمان انسان های پست قرارمیگیرند.

ای دخترجوان ! بدان که آن افراد پست دلشان بحال شما نمی سوزد وشما را برای لذت های زدوگزرخودشان گمراه میکنندوشمارالکه ننگ جامعه میدانند ای دخترجوان وای خواهرمسلمان ! بدان فردیکه شما را دوست میدارد درزشتی هایش نزدخداوند (ج) نامت راذکر می کند وازخداوند(ج) می خواهد تورامنفور(ناپسند) نگهداند.

خواهرمسلمان ! بدان که لذت ها ومحبت های واقعی بدست خالق هستی است پس چیزی که رضای او درآن نیست لذتی به همراه نخواهد داشت، پس سعی کن خود راحفظ نمای تالایق چنین مردی باشی که خداوندمتعال ایراد فرمود. دختریکه درنظرمردم شماره تیلفون جوانیکه با او دوست شده است یادداشت میکند درواقع این جوان آنرا حقیر میشمارد وبه آن اعتماد ندارند ویا باخودش فکرمی کند کسیکه به این ساده گی بامن دوست شدچی بسا آن درآینده باپسردیگر دوست خواهد شد وحتی اگرتقدیرالهی براین باشد که این پسرودختربا هم ازدواج کنداین مردهمواره به رفتارزنش مشکوک خواهدبود وخاطرات اولین دیدار ویا اولین تماس تلیفونی رابه دهن میاورد واین مسئله همیشه مثل کست (سی دی) درحافظه اش چرخ میخورد.

درآخرپسران ودختران جوان راتوصیه مینمایم که تاعمرباقی مانده وتاقیامت فرا نرسیده بسوی خداوند بزرگ بازگشته توبه کندتاخداوندج گناهان مارا ببخشدوهدایت رانصیب مان گرداند، خدایا مارا وجوانان ماراکه سرمایه طلائی کشورماهستندهدایت فرما. آمین

ترتیب کننده: مدیریت عمومی ارشادومساجد